# اورینی مینه

------------------

## تسلیمی

ومی تره لاس د تورو زلفو په حلقو کی دی
ومی پاره وه په ا شارو او په نخرو کی دی
شوندی دی په یخ شوندو می کیږده چی لږګرمه شی
ډیر یخنی کاږلی د بیلتون په یخو شپو کی دی
اوس چي ستا د زلفو چتر لاندی را پریوتی یم
ومی تخنوه په اداګانو او په جلوو کی دی
مه می بیلوه له تودی غیږی دی هیڅکله
«مل» مخاطب ساته په وینا د مرکو کی دی
-----------------------------------

جرمنی- 29-04-2021

## کوچیانی

صفت کی دی می ژبه نه بندیږی کوچیانی
کاروان پر سر چی ومی لید شین خال دی په تندی
خندا وه توکیدلي ستا په سرو تنکی لبانو
غاتول دی وه تومبلی پاس پخپل توره پیکي
نظر نه دی خدای و ساتی د بنکلو امیره
له ما نه دی زړه وړی په نخرو نخرو هوسی
چوپړ به دی کیږم که د مینی لاس راکړی
ځما د «مل» وعده در سره دي ډیر ریښتیانی
---------------------------------

جرمنی- 28-04-2021

## ګلرخو

د ګلرخو مينه اور سره بازی دي
اداګانی يی د سکروټو سپرغی دي
پام دی وساته مينه پخپل ځان
چی د زلفو تور ماران يی منګری دي
ها چي خاندی لومه تاته غوړولي
زړه شکار عادت د هغو ابدی دي
څوک دهغو په لومه«مل» چی يوځل ګير شی
خلاصون له هغو ډير ناشدنی دي
---------------------------------------

**جرمنی -20-04-2021**

## د ساحل غاړه

په ساحل چي لمبيدلی رغبت ځما دی پاره ولي
هرکاته ستا می خواته اور په زړه را بلولي
لوڅ بربنډ دواړه پنډی ستا له حيا اوم پردي کړي
نه په ځان بيا پوهيدمه نه می حال بيا رغيدلي
چي له ليری مي ستا خواته پټ په ځير سره کتلی
ستا د ميني غوټی مي په زړه را غوړيدلي
په مسکي شونډو کتل ستا بسمل کړی اوم بيواکه
ستادارورين مينی مجمرکی«مل» بلکل وه سوځيدلی
---------------------------------------

**جرمنی – 20-04-2921**

## ساقی

د می له ډُرده راکه ساقی ډکه پيمانه
مطربه غږوه د سپينو ليچو د بنګړيو ترانه
له عقله مي پردی که ساقی يار مرور شوی

*بیلتون د آ شنا وړی رانه خوب هر شبا نه*
*ګودر ته نه راځي تیروم ورځ په انتظا ر*
*له ما مرور شوی آهو سترګی رمنده*
*بیا کله می نظر ته یا ر په نا ز راښکا ره شي*
*چی وکړي بیا نخری «مل» بی بنګ کړي مستانه*
*-------------------------------------------*

***جرمنی -12-04-2021***